# ORIENTAL FRUIT MOTH د میوو ختیز پتنګ

## (*Cydia, Grapholita or Laspeyresia molesta*)




د تنی په منځ کی چینجی



د شفتالو د ځانګو په
ځوکوکی ډیره معمولی
حمله



ځوان پتنګ




هغه نقص چی د بادامو میوی ته
رسیدلی دی

**توضیحات :-** دا حشره ډېره مهم آفت دي شفتالو او يو څه دي منو، بادامو، ناکو، زردالو، آلو او بهي لپاره ده .

د حمل په لمړيو کي لمړي چنجي له استراحت څخه خوځېږي ځواني ښځينه پتنګاني د شپي له خوا لوزي او په پاڼو کي هله هګي اچوي چه دي تودوخي درجه CO ۱۵ نه جګه وي چنجيان په مړاويو تنو کي ننوزي لکه تخم خوړونکي چنجي دا هم په ميوه کي ننوزي او مغز ئي خوري کله کله بوزغليو هم يرغل کوي . چنجي په پاڼو باندي او يا دي خاوري په سر په پيله کي بتيتوي ژوند کوي دا حشرات تر ځلورو نسلونو په يوه کال کي کوي دا حشره د ژمي يخ دي بتيتي په شکل په پيله کي تيروي .

**تفتيش او نظارت :-** بايد چه باغونه وليدل شي چه دي آفت ئي ميوي وهلي دي که نه او بايد چه نوټ شي .

2 _ په شفتالو او بادامو کي د تنو مړاوي زونبو کي بايد حساب شي د حمل په نمائي کي په تنو باندي حملو علائم وليدل شي دا حملي په ځوانو ونو او بچګيو کي په آساني سره معلوميداي شي . داتني دوکي په چاقو باندي پر يکړي. دي ختيزي ميوي پتنګ چينجي سپين او يا ګلابي او تور نصواري وي . خو د د شفتالو د تن چينجي تياره قهوئي وي او دي هر Segment تر مينځ سپيني پټي لري او تور دي . که په يوه ونه کي ځلور او يا زياتي حملي وليدلي شي نو دوا پاشي ته ضرورت شته .

3- دي فيرمون تلک دي دوا پاشي دي وخت لپاره استعماليداي شي دا تلکونه په دلوه کي په باغ کي کيږدي او هفته وار ئي نظارت وکړي اووه ورځي وروسته کله چه لمړي نارينه حشره دي دوهم نسل مينځ ته راشي دوا پاشي دي وشي چه معمولا په ثور کي وي .

## مخ نيوي

که ضرورت وي سپاينوساید يا کلوروپايره فوش سهار دي وخته او يا دي شپي ناوخته تطبيق کړي تر څو چه له مچيو نه مخنيوي شوي وي . که تاسو د تخم خوړونکي چنجي لپاره دوا پاشي وکړي دا هم د ختيز د ميوو چنجي ته ګټه رسوي .